# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۱۳مه | ۵٦٦مه گڼه


## ولایت

۴ مخ


### بادغیس

پسته د دغه ولایت له مهمو محصولاتو گڼل کېږي، چې هر کال ترې خلک او دولت میلیاردونه افغانۍ گټه اخلي. د بادغیس د پستو ځنگلونه د هېواد په کچه تر ټولو لوی ځنگلونه دي، چې شاوخوا ۹۵ زره هکتاره ځمکه یې نیولې ده.



# پر شرمونکي فساد اندېښنه؛

## د امریکا سفارت: افغان حکومت دې د فساد په اړه ټولې معتبرې ادعاوې وڅېړي



۳

### کرنې ریاست: روان کال به په سمنگان کې د بادامو حاصلات پنځو زرو متریک ټنو ته لوړ شي



د سمنگان د کرنې ریاست چارواکي وايي چې د دغه ولایت د بادامو په حاصلاتو کې د پخوا په پرتله نږدې دوه برابره زیاتوالی راغلی دی.

د سمنگان د کرنې او اوبو لگولو رییس محمد رحمان ارغندیوال له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې د دوی اټکل دا دی چې کروندگر او بڼوال به سږ کال پنځه زره متریک ټنه بادام راټول کړي. د نوموړي په خبره، تېر کال د سمنگان د بادامو حاصلات څه د پاسه درې زره متریک ټنو ته رسېدل، خو سږ کار دا شمېره نږدې دوه برابره ډېره شوې ده.

د سمنگان ولایت د کرنې او اوبو لگولو رییس دغه راز زیاته کړې چې په دغه ولایت کې د بادامو د حاصلاتو زیاتوالی به د کروندگرو او بڼوالو له اقتصاد سره هم مرسته وکړي. د یادونې ده چې بادام د هېواد له وچو او مشهورو مېوو څخه ده چې ډېره برخه کې یې بهرنیو هېوادونو ته هم صادرېږي.

### د سولې لپاره د لا ډېرې قربانۍ او انعطاف اړتیا

۲ مخ

### کشوری که هر سال یک «لندن جدید» می‌سازد

۲ مخ

### اوزون طبقه – ولې ویجاړېږي او څنگه ساتل کېدی شي؟

۳ مخ

## طالبان: د بندیانو د خلاصون پروسه دې ژر بشپړه شي، ترڅو بین الافغاني مذاکرات پیل شي

طالبانو یو ځل بیا ویلي چې دوی د بین الافغاني مذاکراتو ژر پیل غواړي، خو په هغه صورت کې چې د بندیانو د خلاصون پروسه بشپړه شي.

د یادې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد ویلي، د دوحې تړون عملي کېدل او د بین الافغاني مذاکراتو پیل ځکه ضرور دی، چې دوی د جگړې د کمښت او ختمېدو لپاره لار ولټوي. نوموړي زیاته کړې، هرڅومره ژر چې کېدای شي، باید د بندیانو د خلاصون پروسه تکمیل او بین الافغاني مذاکرات پیل شي، همدا د ستونزو حل ته واقعي لاره او منطقي دریځ دی. هغه د افغان حکومت دې څرگندونو ته په غبرگون کې چې ویلي یې دي، طالبان باید تر خبرو مخکې تاوتریخوالی کم کړي؛ ویلي، دا غوښتنه غیر منطقي ده او په خبره یې، که څوک جگړه نه غواړي، نو بیا د مذاکراتو د پیل لپاره خنډونه ولې ایجادوي. نوموړي دغه راز ویلي، باید اجازه ورکړل شي چې افغانان د سیاسي تفاهم له لارې چې د افغانانو او نړیوالې ټولنې غوښتنه هم ده، یوې پایلې ته ورسیږي.

د طالبانو دا څرگندونې داسې مهال دي چې تازه د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي ویلي، د دې وخت رسېدلی چې طالبان جگړه ودروي او په واقعي ډول د سولې خبرو ته حاضر شي. نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي چې پر ملکي وگړو او افغان سرتېرو د طالبانو بریدونو د سولې په اړه افغانان، افغان حکومت او نړیوال بې باوره کړي دي.

### د بشري حقونو کمېسیون: د ملکیانو د مرگ ژوبلې ډېروالی د جدي اندېښنې وړ دی



۲ مخ

### شورای عالی سرمایه‌گذاران: با بسته شدن راه سپین بولدک- چمن تاجران افغان صدها هزار افغانی زیان کرده است



گذرگاه سپین‌بولدک-چمن بین افغانستان و پاکستان از ۲۱ روز به این‌سو بسته است.

رحم‌الدین حاجی‌آقا، رئیس شورای عالی سرمایه‌گذاران افغانستان، به رسانه‌ها گفت که این امر صدها هزار افغانی زیان مالی در پی داشته است.

وی گفت که به دلیل بسته شدن جاده، صدها محموله تجاری متوقف شده است و میوه‌ها رو به فاسد شدن است.

جاده سپین‌بولدک-چمن بین کندهار افغانستان و بلوچستان را مأموران پاکستانی مسدود کرده‌اند. تاجران می‌گویند که این مشکل را با دولت افغانستان در میان گذاشته‌اند، اما هنوز حل نشده است.

گفتنی است که در گذشته شماری از مسیرهای تجاری بسته شده که از این رهگذر خسارات زیادی برای تاجران وارد شده است.

این در حالیست که با شیوع ویروس کرونا تمامی راه های تجارتی با پاکستان بسته شده بود، اما پس از شکایات مردم و بازرگانان راه تورخم و غلام خان دوباره بر روی تجارت باز شده است، اما راه سپین بولدک- چمن هنوز هم از سوی پاکستانی ها باز نشده است که مردم هر دو طرف خط فرضی دیورند با مشکلاتی زیادی مواجه کرده اند.

قابل یادآوریست که نزدیک به یک ماه پیش شماری از تجاران به همین منظور به سفارت امریکا مقیم کابل شکایت نموده بود و خواستار فوری این راه های شده بود.




## دریځ

### د سولې لپاره د لا ډېرې قربانۍ او انعطاف اړتیا

حکومت طالبان د تاوتریخوالي پر زیاتولو تورنوي او وایي چې دا تاوتریخوالی به د سولې هڅې زیانمنې او خلک ناهیلي کړي. طالبان بیا حکومت د سولې د خبرو په پیل کې پر خنډ جوړولو تورنوي او وایي چې د دوحې د تړون پر اساس باید پاتې طالب بندیان هم خوشې شي، څو د سولې خبرو ته لاره هواره شي. له دې سره د سولې په پروسه کې یو بندون رامنځ ته شوی چې ورسره بین الافغاني خبرې ځنډېږي او جګړه زیاتیږي. ټاکل شوې وه درې نیمې میاشتې وړاندې خبرې پیل شي، خو د بندیانو د خوشې کولو لانجې د جګړې دوام ته لاره هواره کړه او زرګونه افغانان ووژل شول. حکومت بیا هغه کار وکړ چې په پیل کې یې نه کاوه، ۴۴۰۰ طالب بندیان یې خوشې کړل، خو اوس ستونزه په ٦۰۰ بندیانو کې ده، چې حکومت یې نه خوشې کوي او وایي چې دوی جنایي بندیان دي. د حکومت دریځ له سولې سره له مخالفت پرته بله هېڅ مانا نه لري، ځکه چې که په دې ٦۰۰ بندیانو د سولې خبرې پیلېږي، نو پکار ده چې په خوشې کولو کې یې ځنډ ونه شي. د دغو بندیانو نه خوشې کول د جګړې د دوام سبب شوي، هره ورځ لسګونه افغانان وژل کېږي، نو که په دغو بندیانو خبرې پیلېږي او سولې ته لاره هوارېږي، نه خوشې کول یې په هېڅ ډول د توجیه وړ نه دي. که خبره د قانون وي، نو حکومت خو په هره چاره کې د قانون پر مرۍ پښه ایښې او دلته چې خبره د افغانانو د هیلې او سولې ده، پکار ده چې قانون پلمه نه شي او بندیان خوشې شي. حکومت ځیني جنایتکاران خوشې کړل، ځینو ته یې څوکۍ ورکړې او ځینو یې هم په رتبو او امتیازونو ونازول، خو د سولې لپاره بیا دلته د قانون د واکمنۍ خبرې کوي، چې په واقعي مانا له دې ولس سره لوی ظلم دی.

طالبان هم باید نرمښت وکړي، د بندیانو د خوشې کولو لپاره له سیاسي لارو چارو کار واخلي، تاوتریخوالی زیات نه کړي، ځکه چې اوس جګړه پوره افغاني ده او زیان یې یو مخ افغانانو ته رسیږي. په جګړه کې د وژل کېدونکو افغانانو مړي د هغوی کورونو ته نه ورځي چې د سولې په لاره کې خنډونه جوړوي، بلکې د هغوی کورونو ته ورځي چې سوله یې هیله ده او په دې برخه کې قربانۍ ته تیار دي. له همدې امله طالبان باید تاوتریخوالی نور هم کم کړي او هېڅ ډول زیادښت پکې را نه ولي. آن پکار ده چې طالبان له ځینو غوښتنو تېر شي. ښه ده چې د سولې لپاره ددغو ٦۰۰ کسانو له خوشې کولو هم تېر شي او یو څه نور هم ورته صبر وکړي، څو خبرې پیل شي. که له دې سره سره بیا هم چا د سولې د خبرو په پیل کې خنډ جوړاوه، ولس ته به معلوم شي او پراخ فشار به پرې راشي. د جګړې اوسنی زیان ولس ته اوړي، نو ځکه هر څوک چې له دې ولس سره مینه او خواخوږي لري، له خپله اړخه باید ډېره قرباني او انعطاف وښیي، څو د سولې پروسه بریالۍ شي او جګړه‌خوښي او د سولې ضد کسان ناکام او رسوا شي.

# کشوری که هر سال یک «لندن جدید» می‌سازد

منبع: بی بی سی- فارسی

گفته می‌شود که در دهه جاری نیمی از ساختمان‌های جدید دنیا در چین ساخته خواهد شد، سی‌سی ژنگ، خبرنگار علمی می‌پرسد< این کشور چطور می‌تواند ساختمان‌های بهتری بسازد؟

در شمال پکن، در جایی که با استادیوم ملی چین موسوم به «لانه پرنده» فاصله زیادی ندارد، یک ساختمان چهار طبقه نارنجی رنگ به چشم می‌خورد. این ساختمان از نظر نمای ظاهری تفاوت زیادی با سایر ساختمان‌های واقع در محوطه آکادمی بررسی‌های ساختمانی چین، یا میلیون‌ها ساختمان دیگری که هر سال در این کشور احداث می‌شود ندارد. ولی این ساختمان تنها با یک پنجم کل انرژی که سایر ساختمان‌های اداری و دفتری مشابه در پکن، مصرف می‌کنند، اداره می‌شود. این ساختمان بخشی از برنامه‌ای است که هدفش احداث ساختمان‌های مستحکم‌تر و بادوام‌تر در چین است.

طبق برخی محاسبه‌ها در دهه آینده تقریباً نیمی از ساختمان‌های جدید دنیا در چین احداث خواهد شد. سطح زیربنای ساختمان‌های جدید چین هم اکنون بالغ بر دو میلیارد متر مربع است که اگر کل سطح زیربنای یکی از این ساختمان‌ها را در یک طبقه واحد قرار دهیم مساحت به دست آمده برابر با ۱.۳ درصد مساحت تمام لندن خواهد بود. این یک رقم باورنکردنی است به خصوص وقتی که در نظر بگیریم در کل جهان ساخت و سازها و بخش ساختمانی، مسئول حدود ۳۹ درصد دی اکسید کربن ناشی از مصرف انرژی و صنایع هستند.

در طول سال‌ها، رشد اقتصادی سریع چین انرژی مصرفی ساختمان‌ها را به میزان قابل توجهی افزایش داده و به صورت یک چالش مهم برای محیط زیست درآمده.

در فاصله سال‌های ۲۰۰۱ تا ۲۰۱٦، مصرف انرژی در بخش ساختمانی چین دو برابر شد که معادل سوخت نزدیک به یک میلیارد تُن زغال سنگ بود. کربن مصرف شده در احداث ساختمان‌ها از جمله مواد خام و انرژی که در سراسر زنجیره عرضه به کار می‌رود، نزدیک به یک پنجم کل تولید گاز کربنیک در چین است.

ژو یینگچین، از دانشگاه تسینگ‌هوآ، پژوهشگری که استفاده از استانداردهای معماری سبز را در چین، توسعه داده می‌گوید: «چیزی که چین به آن احتیاج دارد، دادن این تضمین است که کیفیت زندگی مردم بهتر خواهد شد، ولی نه به قیمت افزایش سریع مصرف انرژی در ساختمان‌ها.»

چگونه چین می‌تواند از عهده این وظیفه سنگین برآید؟

یکی از مشهودترین دلایل برای این که در معماری جدید چین گیاهان و درختان اهمیت بیشتری پیدا کرده‌اند، تماشای ساختمان‌هایی است که پوشیده از گیاه و درخت است.

استفانو بوئری، معمار ایتالیایی از پیشگامان ابداع جنگل‌های عمودی است. او و همکارانش پس از ساختن دو ساختمان مسکونی سبز و خرم ابتکاری در میلان به نام جنگل عمودی، برای احداث جنگل عمودی بعدی، نانجینگ مرکز استان جیانگسو در شرق چین را انتخاب کردند.

درختکاری در شهرها به مقابله با تولید دی اکسید کردن و نیز کاهش آلودگی هوای شهر کمک می‌کند. ولی در نواحی شهری پُرتراکم چین که بهای جا و مکان بسیار زیاد است، تقاضا برای احداث جنگل‌هایی که به طور عمودی و نه به طرف خارج گسترش می‌یابند، رو به افزایش است.

اگر ساختمان‌های مرتفع دارای بالکن‌ها و تراس‌های پوشیده از گیاه و سبزه باشند، امتیازاتی به آنها تعلق می‌گیرد.

قرار بود ساختمان دو برج سبز و خرم نانجینگ، تا اواخر سال ۲۰۲۰ پایان یابد، ولی اپیدمی کرونا موجب تعویق تکمیل پروژه شد. حدود ۲۵۰۰ بوته و بیش از یک هزار اصله درخت نمای خارج برج‌ها را خواهد پوشاند. هم اکنون نزدیک به ٦۰۰ اصله درخت از نوع درختان محلی از جمله درخت‌های گیلاس و گینگکو در گلخانه حومه شهر پرورش داده می‌شوند تا بعد دیوارهای برج‌ها را بپوشانند. قبل از این که درخت‌ها آماده انتقال به محل برج‌ها شوند، ارتفاع آنها به ٦ تا ۹ متر خواهد رسید.

ییبو شو، که شریک استفانو بوئری است و دفتر شانگهای این شرکت را اداره می‌کند، می‌گوید، قبل از این که کارگران درخت‌ها را در تراس‌ها و ایوان‌های برج‌ها بکارند، برای مطمئن شدن از مقاومت آنها در برابر باد، با ایجاد باد مصنوعی استقامت درختان را در ارتفاع‌های مختلف امتحان خواهند کرد. این درختان به بهتر شدن آب و هوای ناحیه و نیز تنوع گونه‌ها کمک می‌کنند.

بسیاری از استان‌های چین برای تشویق مردم به این که سبز و خرم بودن لازمه احداث آسمان خراش‌ها باشد، سیاست‌هایی اتخاذ کرده‌اند. به طور مثال در استان ژیجیانگ، اگر ساختمان‌های مرتفع دارای بالکن‌ها و تراس‌های پوشیده از گیاه و سبزه باشند، هنگام محاسبه سطح زیربنای تمام طبقات ساختمان، امتیازهایی برای این نوع فضاهای سرسبز قائل می‌شوند و در نتیجه ملک را به قیمت گران‌تری می‌شود فروخت.

اگر چه احداث یک چنین ساختمان‌هایی نیازمند برنامه ریزی زیادی برای معماران است، استفانو بوئری می‌گوید، این زحمت‌ها ارزش دارد: «اگر بخواهیم تولید دی اکسید کربن را کاهش دهیم امروزه ابزار زیادی برای این کار داریم. ولی برای جذب دی اکسید کربنی که هم اکنون تولید شده تنها یک راه داریم.» پایین آوردن گاز کربنیک موجود در هوا و ذخیره کردن آن به شکل دیگری مؤثرترین مکانیزم برای این کار، درختکاری و سبز و خرم نگاه داشتن محیط است.

چنین عقیده‌ای قابل تحسین است؛ ولی باید گفت که انتظار می‌رود جنگل های عمودی در نانجینگ، هر سال تنها ۲۵ تُن دی اکسید کربن را جذب کنند یعنی به همان میزانی که ۱۰ بار رفت و برگشت با هواپیما از پکن به لندن تولید می‌کند. ولی حتی اگر احداث جنگل‌های عمودی گسترش یابد، برای کاهش تولید کربن صنعت ساختمانی چین، باید اقدامات به مراتب بیشتری به عمل آید.

پوشاندن ساختمان‌های مرتفع با گیاهان و رستنی‌ها، نماد مشهودی از حفاظت محیط زیست است ولی از نظر کنترل تولید کربن، بهبود روش احداث بناها و مواد ساختمانی نیز می‌تواند تاثیر به مراتب بیشتری داشته باشد. سیمان به تنهایی هر سال مسئول ۸ درصد تولیدات کربن جهان است. طبق یک برآورد در سال ۲۰۱۵ گاز کربنیک تولید شده از مصالح ساختمانی به علاوه فولاد، سیمان، آهن و آلومینیوم و احداث ساختمان برابر با میزان گاز کربنیک ناشی از سوزاندن یک میلیارد تُن زغال سنگ بوده است.

تا سال ۲۰۱۸ چین بیش از ۱۰ هزار پروژه ساختمانی با تاکید به «سبز» بودن این ساختمان‌ها داشت. یک سیستم درجه بندی سه ستاره‌ای بر اساس زمین، انرژی، آب و صرفه جویی در مصالح و نیز کیفیت محیط داخل ساختمان به این بناها جواز می‌دهد.

احداث بناهای سنتی برای کنترل دما هم می‌تواند مفید واقع شود. ژو یینگشین، از دانشگاه تسینگ‌هوا می‌گوید، البته احتمال اشتباه هم در این سیستم وجود دارد چون بیشتر این جوازها تنها بر اساس نقشه ساختمان‌ها داده می‌شود نه این که ساختمان مورد بحث در دنیای واقعی عملاً دارای این خصوصیات خواهد بود، ولی البته می‌تواند نشانه‌ای از کل روند باشد.

در سال ۲۰۱۷ چین برنامه‌ای را پیاده کرد که بر اساس آن قرار بود تا پایان سال ۲۰۲۰ حدود ۵۰ درصد ساختمان‌های شهری جدید الاحداث، دارای «جواز سبز» باشند.

اگر چه آهنگ رشد توسعه شهری در چین بسیار سریع است، روند تغییر هم می‌تواند چنین سرعتی داشته باشد. چنانچه قرار باشد طی ده سال آینده، نیمی از کل فعالیت‌های ساختمانی جهان در چین صورت بگیرد، در آن صورت باید استانداردهای لازم برای حفاظت از محیط زیست و منابع طبیعی را بالاتر برد تا بتوان در سراسر جهان تاثیر پخش گازهای گلخانه‌ای را در محیطی که ساخته دست بشر است، کاهش داد.



# اوزون طبقه – ولې ویجاړیږي او څنګه ساتل کېدی شي؟

لیکنه: نجیب الله ځیرک

اقلیمي بدلون، چاپېریال ناولتیا، د شین پوړیز ګازونو تولید چې نړیوالې تودوخې سره تړاو لري د ساینسپوهانو، سیاستوالو او حتی د عامو خلکو د ډېرې پاملرنې او اندیښنې وړ ګرځېدلي.

نړیواله تودوخه، د ښارونو او ګڼ مېشتو سیمو د هوا ککړتیا او اقلیمي بدلون د انسانانو د کړنو پایله ده چې ځمکه او پرې ژوند یې له لوی ګواښ سره مخ کړی، نو له همدې امله هڅې روانې دي چې ځمکې ته ور پېښ ګواښونه کنټرول او ژوندکولو وړ وساتي.

د نورو تر څنګ یوه اندېښنه د انسانانو د کړنو له امله د اوزون طبقې ویجاړې ده چې له امله یې پر ځمکه د انسانانو تر څنګ د ژوو او نباتاتو ژوند له ګواښ سره مخ کیږي، خو بلخوا له څلورو لسیزو داسې هڅې روانې دي تر څو د دې ویجاړې مخنیوی او شته ګواښونه له منځه لاړ شي او د اوزون طبقه وساتل شي.

څه موده وړاندې ملګرو ملتونو خبر ورکړ چې سوېل قطب د پاسه اوزون طبقې کې جوړ شوی سوری بېرته بند شوی او د رغېدو په حال کې دی چې پر ځمکه د اوسېدونکو لپاره ښه زېری بلل کېږي. که څه هم دا ویجاړه شوې برخه پخپله رغېدلې خو د یو لړ تر سره شویو کړنو او کوښښونو پایله ګڼل کیږي چې په ۱۹۸۷ کال کې مونټریال پرتوکول له لاسلیک سرچینه اخلي.

په دې لیکنه کې به د اوزون طبقې پېژنده، د ویجاړتیا زیانونه او لاملونه، د د ساتلو لارې چارې او په دې برخه کې نوره نړۍ او افغانستان کې شوې او کېدونکې هڅې ولولو.

اوزون په اصل کې ګاز دی چې د ځمکې په اتموسفیر کې په طبیعي شکل وجود لري، د اوزون مالیکول (له درې اتومه اکسیجن څخه جوړ شوی چې ۹۰ سلنه یې د ځمکې اتموسفیر په ستراتوسفیر برخه کې شته چې ګټور اوزون بللی کېږي.

د ستراتوسفیر هغه برخه چې د اوزون زیاد مالیکولونه پکې راټول شوي د اوزون طبقې (Ozone Layer)په نامه یادیږي چې د ځمکې له سطحې نه پورته د ۱۵ او ۳۵ کیلومترو په منځ کې ۳ میلي متره پنډه طبقه ده چې پنډوالی یې موسمي او سیمو ته په کتو توپیر کوي، سربېره پردې یې پنډوالی د لمر له وړانګو د انرژي اخیستو پورې هم تړاو لري نو څکه د ورځې په پرتله یې پنډوالی د شپې کمیږي.

د اوزون طبقه ځمکې ته د لمر د ماورا بنفش (Ultra-Violate) زیان رسونکي وړانګې چې پر ځمکه ژوندیو موجوداتو روغتیا ته زیات خطر پېښوي جذبوي او د را تلو مخه یې نیسي. د اوزون طبقه لومړی ځل په ۱۹۱۳ کال د فرانسوي فزیک پوهانو لخوا وپېژندل شوه.

دا ساحه حساسه او د ژر تخریبېدو وړ ده هغه څکه چې په اوزون کې د شته اکسیجن د اتمونو تر منځ اړیکه نازکه او په اندک ډیکه یو له بل بېلېدی شي نو له همدې امله ساینسپوهان او چاپېریال ساتونکي هڅه کوي چې د داسې موادو تولید او استفاده بنده کړي چې د اوزون له اکسیجن سره د تعامل ښه وړتیا او د تخریب سبب یې ګرځي.

په اتموسفیر کې د ازون طبقې موقعیت

د اوزون طبقې ویجاړې پر ځمکه نه یوازې د انسانانو بلکې ټولو ژویو ژوند له ګواښ سره مخ کوي. څکه ویجاړه شوې اوزون طبقه د لمر ضرر رسوونکې وړانګې جذب او ځمکې ته یې د راتلو مخه نه شي نیولی.

په نتیجه کې د ځمکو اوسېدونکو روغتیا ته ګواښونه پېښوي لکه د انسانانو د دفاعي سیستم کمزورتیا، پوستکي ببلا ببلو سرطانونو، د سترګو ناروغیو (Cataracts)، د لمرپه وړانګو د پوستکي سوځېدلو، د کرنیزو محصولاتو ویجاړېدو او د ځینو سمندري ژوو له منځه تللو سبب ګرځي. له نیکه مرغه د اوزون طبقې جوړښت او موجودیت موږ ټول له دې اپټونو ژغوري نو پکار ده چې خپلې روغتیا پخاطر د هغې په ساتلو کې هڅې ونه سپمووو.

د اوزون طبقې د ویجاړی میکانیزم او پروسه لومړی ځل د ۱۹۷۰ لسیزې په لومړیو کې سانیسپوهان د انترکتیکا سیمي (سوېل قطب) د پاسه متوجه شول چې د اوزون طبقه د ویجاړې په حال کې ده.

لومړی باور دا و چې د تخریب سبب به په ستراتوسفیر کې د الوتکو څخه د تولیدشویو نایتروجن اوکساید (No۲) له امله وي، خو په ۱۹۷۴ کې جوته شوه چې د کلوروفلوروکاربن (CFC) په نامه د انسانانو لخوا جوړ شوي کیمیاوي مواد اوزون طبقې ته زیان رسوي.


CFC ګازونه عموماً د سړوونکې مادې په توګه په یخچالونو، د کور او موټرونو په ایرکنډیشنونو، ببلاببلو سړوونکو وسایلو او د تودوخي عایق موادو کې کارېږي. پر CFC سربېره هیلون او هایدروکاربون چې اور وژونکو کپسولونو، ځینې سپرې ګانو، پلاستیکي توکو کې او میتایل برومایډ چې د کرنیزو ځمکو او حاصلاتو د ضد عفونې کولو په توګه ترې ګټه اخیستل کېده هم د اوزون طبقې په تخریب کې رول درلود چې په تدریجي ډول یې تولید او کارول بند شول.

CFC ګازونه د ځمکې پر سطح بې خطره وي، خو کله چې هوا ته پورته شي خطرناک شي او په اتموسفیر کې تر سلو کلو یا زیات عمر کولی شي.

لکه څرنګه چې CFC په خپل ترکیب کې کلورین، فلورین او کاربون لري هوا ته له تګ وروسته د لمر وړانګو په واسطه کلورین ترې بېل او د اوزون له یوه اتوم اکسیجن سره په یو ځای کېدو هغه تجزیه او کلورین مونوکساید جوړوي او په دې توګه اوزون په دوه اکسیجنه مالیکول بدلیږي.

# پر شرموونکي فساد اندېښنه؛

## د امریکا سفارت: افغان حکومت دې د فساد په اړه ټولې معتبرې ادعاوې وڅېړي



امریکا یو ځل بیا په افغانستان کې پر موجود فساد اندېښنه ښودلې او له افغان حکومت یې غوښتي چې په دې تړاو جدي ګامونه اوچت کړي. په کابل کې د امریکا د سفارت شارژدافیر په یوه ټوېټ پیغام کې ویلي رسنیو ته په کار ده چې د فساد په کشف او افشا کې خپل رول ډېر او حکومت باید په دې تړاو ملت ته ځواب ویونکی وي. په دې وروستیو کې ګڼو رسنیو او نړیوالو بنسټونو په افغانستان کې د شته فساد له امله راپورونه خپاره کړي دي او په وینا یې د فساد پر وړاندې اوسنۍ مبارزه اغېزمنه نه ده.

له هغه وروسته چې په هېواد کې د کرونا ویروس د خپرېدو راپورونه خپاره شول، ورسره سم په ټولنیزو رسنیو کې د فساد د موجودیت او د کرونا لپاره د ځانګړو شوو پیسو د اختلاس او غلا ګنګوسې هم خپرې شوې. له هغه وروسته یو شمېر رسنیو د فساد پر وړاندې د مبارزې په اړه څېړنیز راپورونه خپاره کړل او په هغه کې یې ثابته کړه چې په افغان حکومت کې فساد موجود دی او په دې فساد کې حکومتي چارواکي ښکېل دي. سره له دې چې حکومت د فساد موجودیت رد کړ، خو اوس نړیوالې رسنۍ او مهم نړیوال بنسټونه او د افغانستان متحدین له زیاتېدونکي فساد شکایت کوي.

تازه په کابل کې د امریکا د سفارت شارژدافیر هم د شته فساد په اړه اندېښنه ښودلې ده. راس ویلسن د ځینو رسنیو کار ستایلی چې د فساد پر وړاندې مبارزه او د اختلاس د مواردو له موجودیت راپورونه ورکوي، خو له حکومته غواړي چې په دې اړه خپل اقدامات جدي کړي. د نوموړي په خبره، فساد د افغانستان د پرمختګ په لار کې خنډ دی، رسنیو له فساد پرده پورته کړې او اوس د حکومت دنده ده چې دغه راپورونه په سمه او دقیقه توګه وڅېړي. افغان حکومت تر اوسه د رسنیو له لوري د خپرو شوو راپورونو او دغه راز د امریکا د سفیر پر څرګندونو غبرګون نه دی ښودلی او نه هم په دې اړه ولس ته معلومات ورکوي.

د امریکا د سفارت شارژدافیر همدا راز غوښتنه کړې چې حکومت دې ژر تر ژره تورن کسان د قانون منګولو ته وسپاري. د ده په خبره: ((حکومت دې د رسنیو معتبر راپورونه په دقیقه توګه وڅېړي، هغوی چې په فساد کې ښکېل دي، باید جزایي شي او د قانون منګولو ته وسپارل شي)).

تر دې وړاندې هم په کابل کې د امریکا د سفارت سرپرست راس ویلسن تر دې وړاندې هم په افغانستان کې له رسنیو، خصوصي سکتور، شرکتونو او عامو وګړو غوښتي وو چې د فساد په له منځه وړلو کې مرسته وکړي او د فساد موارد افشا کړي. هغه د ملګرو ملتونو د یوه راپور په غبرګون کې ویلي وو چې فساد د افغانستان د سولې او پرمختګ په لار کې تر ټولو ستر خنډ دی او پر وړاندې یې پراخې مبارزې ته اړتیا ده.

د امریکا سرپرست سفیر داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې پرون هم په کابل کې د فساد پر وړاندې یوه سفارتي ګروپ په دې تړاو اعلامیه خپره کړې وه. په دې ګروپ کې ملګري ملتونه، جاپان، امریکا، اروپایي ټولنه او نور هېوادونه شامل دي او په یوه خوله له افغان حکومت غواړي چې د فساد پر وړاندې مبارزه جدي کړي. ملګرو ملتونو هم په یوه راپور کې په افغانستان کې د فساد اوسنۍ کچه د جدي اندېښنې وړ بللې وه او له حکومت یې ددغه پدیدې پر وړاندې د جدي او عملي مبارزې غوښتنه کړې وه.

افغان حکومت بیا تر دې دمه پر هېڅ دغه راپور او ادعا غبرګون نه دی ښودلی. سره له دې چې د مافیا له لوري په ګمرکونو کې هم د فساد ګنګوسې او راپورونه خپاره شوي دي، د کرونا لپاره په ځانګړې شوې بودیجه کې د اختلاس ګڼ راپورونه دي، خو حکومت په دې تړاو وضاحت نه ورکوي. ولسمشر څه موده مخکې په یوه مرکه کې ویلي وو، پیسې یې د کرونا ضد مبارزې لپاره پیدا کړې، خو ظرفیت نشته دی، دوی یې نه شي لګولی او هغوی چې فساد کړی ولس ته به معلوم وي ولس یې دې له ګریوان ونیسي.

# امنیت شورا: د سوریې جګړه ځپلو میلیونونو کسانو ته به د مرستو رسولو بهیر تر یوه دهلیز پورې محدود وي



د ملګرو ملتونو امنیت شورا سوریې ته د بشري مرستو رسولو بهیر وغځاوه، خو هغه یې له ترکیې د سوریې شمالي برخې ته چې د سوریې د رژیم یاغیان پرې کنټرول لري، په یوه دهلېز پورې محدود کړ.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا هغه پرېکړه لیک تصویب کړ چې سوریې ته د ترکیې له پولې یوه دهلېز ته د بشري مرستو رسولو اجازه ورکوي.

دا هغه څه وو چې د روانې اونۍ په پیل کې روسیې وړاندیز کړی و، خو د امنیت شورا د اکثریت غړیو ملاتړ یې خپل نه کړ.

سوریې ته د بشري مرستو رسولو په اړه دا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پنځم پرېکړه لیک دی چې دې شورا تصویب کړ. له دې مخکې نور پرېکړه لیکونه چې روسیې او یو شمېر یې لوېدیځو هېوادونو وړاندې کړي وو، رد شوي وو.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دغه پرېکړه لیک وروسته له هغې تصویبوي چې سوریې ته د ملګرو ملتونو د بشري مرستو رسولو بهیر چې له ترکیې د دوو دهلېزونو له لارې ترسره کېده، پای ته رسېدلی و. دغه پرېکړه لیک چې مسوده یې د جرمني او بلجیم له خوا وړاندې شوې وه، د یوه کال لپاره له کوم ځنډ پرته د مرستو رسولو دغه بهیر غځوي.

یو شمېر لوېدیځ هېوادونه بیا دې ته اندېښنه لري چې د مرستو رسولو دغه بهیر چې په یوه دهلېز پورې محدودېږي، په سیمه کې یو میلیون او درې سوه زره اوسېدونکي د ژوند له لومړنیو اړتیا بې برخې کېږي.

د ملګرو ملتونو چارواکو او د بشري چارو ډلو تر ډېره هڅه کړې وه چې د سوریې شمال لوېدیځ ته چې اوسېدونکي یې سخت مرستو ته اړ دي، د بشري مرستو دوه دهلېزونه پرانیستې وي، خو دغه هڅې بریالۍ نه شوې.

د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د ورمې ورځې پرېکړه لیک ته د دې شورا دوولس غړیو مثبته رایه ورکړې او روسیې، چین او د دومینیکن جمهوریت له رایې ورکولو ډډه کړې ده.

روسیې او چین له دې مخکې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا بل هغه پرېکړه لیک ویټو کړی و چې له ترکیې یې د شپږو میاشتو په مخه د بشري مرستو رسولو دوو دهلېزونو ته اجازه ورکوله.

سوریې ته د دوو دهلېزونو له لارې د امنیت شورا د پرېکړه لیک مخکینۍ مسودې چې د شپږو میاشتو په مخه یې بشري مرستو رسولو ته اجازه ورکوله، دوه ځلې د روسیې او چین له خوا ویټو شوې وه.


د سوریې شمال لویدیځې برخې ته د بشري مرستو رسولو دغه بهیر د دمشق له مداخلې پرته له ۲۰۱۴ ز کال راهیسې پیل شوی چې د اعتبارموده یې هرځلې تمدیدېږي. ملګري ملتونه دغه راز له ترکیې د سوریې د خاورې دې برخې ته د بشري مرستو رسول ډېر حیاتي بولي.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ
### پنځلسم څپرکی




۲. پر تجارت بیا پانگونه کول
ډېر شبکه یي بازارموندونکي یوه لویه تېروتنه کوي. کومې پیسې چې دوی ته له نوي تجارت څخه لاس ته ورځي، د تنخوا په توگه گټه نه ترې اخلي، بلکې د ژوند پر بې ځایه لگښتونو یې لگوي. د یوه پر ځای د دوو موټرو اخیستل، د لوی کور اخیستل، زیات لگښت کوونکې مېلې کول او دې ته ورته نورو کارونو ته ملا وتړي.
دا خبره نه ده چې دوی کم‌عقلان دي. ما ډېر هوښیار او پوه خلک لیدلي چې دا کار کوي. د دې یوازینی دلیل دا دی چې دا خلک اوس هم د تنخوا لرونکې دندې په فکر کې دي. که شتمنېدل غواړئ، نو د تجارانو او پانگوونکو په څېر فکر وکړئ.
لومړی خپل ورځنی کار له لاسه مه ورکوئ. د تجارت کولو موخه دا نه ده چې تجارت دې ستاسو د ورځنۍ دندې ځای ونیسي او ستاسو ورځنۍ دنده دې شي. په دې کار کله هم شتمني لاس ته نه راځي. د دې پر ځای داسې وکړئ: کله چې ستاسو تجارت دومره شو چې تاسو ته یو څه گټه په لاس درکوي، نو هغه گټه واخلئ او دویم ځل په خپل تجارت کې پانگونه وکړئ چې تجارت مو ښه پراخ شي.
ډېر خلک په دې خاطر له تجارت څخه زیاته گټه نه ترلاسه کوي چې په خپل تجارت کې بیا بیا پانگونه نه کوي.
نو تاسو غواړئ له E کونج یا تنخوا لرونکې دندې سره مخه ښه وکړئ او خپل تجارت رامنځته کړئ. ښایي له خپلې دندې څخه دې بد کېږي یا کېدای شي داسې یاست لکه نور مسلکي خلک چې ما لیدلي. هغوی له خپلې دندې سره مینه لري؛ خو نه غواړي په اونۍ کې څلوېښت، پنځوس یا شپېته ساعته کار وکړي. توپیر نه لري، هر دلیل چې وي. خو واقعیت دا دی، که تاسو له تجارت څخه لاس ته راغلې گټه د ژوند په میاشتنیو لگښتونو کې ولگوئ، نو تاسو تجارت نه جوړوئ، بلکې ځان ته بل کار پیدا کوئ.
یو ښه تجار د تجارت جوړولو لپاره هېڅکله پانگونه او بیا ځلې پانگونه نه بس کوي. تل په خپل تجارت کې بیا بیا پانگونه کوي. ډېر خلک په دې خاطر له تجارت څخه زیاته گټه نه ترلاسه کوي چې په خپل تجارت کې بیا بیا پانگونه نه کوي.
جان: پخواني تجارتونه ښایي د گودامونو په جوړولو، په ملي کچه اعلاناتو، نوو تولیداتو او د تولیداتو د وېش پر نوو کانالونو کار وکړي. خو د یوه شبکه یي بازارموندونکي په توگه تاسو دې لگښتونو ته هېڅ اړتیا نه لرئ. دا پانگونه د شبکه یي بازارموندنې شرکتونه ستاسو لپاره کوي. په خپل تجارت کې بیا ځلې پانگونه څنگه وکړئ؟ ځینې برخې شته چې تاسو په هوښیارۍ پانگونه پکې کولای شئ. لکه، ځان روزل او د شبکه یي بازارموندنې د پراختیا په موخه نورو ښارونو ته سفر کول. د تجارت د پرمختگ او زده کړې توکي او سرچینې ټول په بیا ځلي پانگونه کې شاملېږي.
تر ډېره د شبکه یي بازارموندنې اصلي پانگه ستا پیسې نه، بلکې ستا هڅه او وخت دی. د شبکه یي بازارموندنې د گټې ډېره برخه تا ته راځي چې د شتمنۍ جوړولو پروسه ښه سرته ورسوې. پام دې وي، ما د «شتمنۍ جوړول» درته وویل د «شتمنۍ بربادول نه.» ځینې خلک له دې تجارت څخه راغلې گټه غنیمت گڼي او بربادولو او تس نس کولو ته یې ناست وي.
تېروتنه مه کوئ. ما ډېر خلک لیدلي چې گټلې پیسې پر لویو موټرو، کورونو او د ژوند پر بې ځایه لگښتونو لگوي. په بې ځایه مصرفونو د خپل تجارت سپکاوئ مه کوه. د خپلې نوې گټې احترام وکړه او په هغې بیا ځلي پانگونه وکړه.
۳. پر ملکیتونو پیسې لگول
د تجارت د گټې په زیاتېدو دې اضافي پیسې د ملکیتونو په پېرلو ولگوه. په دې کې گډه پانگونه، سهامي ونډه او نور ارزښتمن کاغذونه نشته. نو ځکه د پېرلو لپاره خورا اسانه شتمني ده. په سهامي تجارتونو او د گډې پانگونې په صندوقونو کې خطر یو څه زیات وي او گټه له مالیې سره یو ځای پر پانگه اضافه کېږي. نو د پانگونې پر وخت د خطرونو د کمولو لپاره مالي پوهې ته اړتیا ده. دلته پلان دا دی چې په لاس ته راغلو نوو اضافي پیسو باید داسې پانگونه وکړو چې گټه لاسته راوړنکې شتمني ترې جوړه شي. د گټې لپاره ډېرې شتمنۍ شته؛ خو زما په اند د گټې لپاره ملکیت تر ټولو غوره دی او دا خبره دوه دلیله لري:
لومړی، پر ملکیتونو د پانگوالو لپاره د مالیې قوانین په گټه دي. دویم داچې بانکونه پر ملکیت د پانگونې لپاره پور درکوي.
خلک ډېر وخت له ما پوښتنه کوي چې «څنگه به ملکیت وپېرلای شم، په داسې حال کې چې د کرایې پیسې نه لرم؟» دا ښه پوښتنه ده. تر څو چې اضافي پیسې ونه لرې، ملکیت نشې پېرلای. په همدې خاطر وایو چې تاسو هغه وخت ملکیت پېرلای شئ چې تجارت رامنځته کړئ او په هغه کې بیا ځلي پانگونه وکړئ. د شبکه یي بازارموندنې په مرسته تاسو په لږو امکاناتو خپل تجارت جوړولای او اضافي پیسې موندلای شئ. **دوام لري...**

# بادغیس

حشمت الله نوري



بادغیس د هېواد د شمال لوېدیځو ولایتونو په ډله کې راځي او مرکز یې د قلعه نو ښار دی. دغه ولایت لوېدیځ ته له هرات، ختیځ ته له فاریاب، سوېل ته له غور ولایت او شمال ته د ترکمنستان له هېواد سره گډې پولې لري.
دغه ولایت ۲۳۰۰۰ کیلومتره مربع مساحت او شپږ ولسوالۍ لري، د وگړو شمېر یې ۴۳۹۵۰۰ تنه ښودل شوی دی.
بادغیس د بادخېزه په مانا هم راغلی دی، چې بادونه په کې زیات چلېږي، ځکه نو دغه نوم ورکړل شوی.
بادغیس یو وخت د هپتالیانو تر واک لاندې سیمه بلل کېده، چې د طرخان په مشرۍ یې د اسلام د لښکرو پر وړاندې سخت مقاومت وکړ. د یوه نوم ورکي لیکوال په وینا، بادغیس شاوخوا درې سوه کلي درلودل او تر ټولو مهم او اغېزناک ښار یې دهستان او د بادغیس حکومت په مرکز کوغن اباد کې و.
بادغیس په ۱۹۶۲ م کال کې د افغانستان د سیاسي اداري وېش په موده کې د هرات ولایت یوه برخه وه. دغه اړیکه له پخوا زمانو څخه اوږده ریښه لري. د بادغیس په بازارونو کې داسې سوداگر او صنعت کاران شته، چې په اصل کې د هرات اوسېدونکي دي او یا یې هم د هرات ټول فرهنگ ساتلی دی. په بادغیس کې حنظله بادغیسي، چې له اسلام منلو وروسته لومړنی شاعر دی، دې نړۍ ته سترگې غړولې دي.
بادغیس ولایت مواصلاتي لارې او کافي اوبه نه لري. نو له همدې امله دی چې په هېواد کې یې د نورو ولایتونو په پرتله د وگړو شمېر کم او دغه راز د دغه ولایت د پراختیا او پرمختگ درجه په ټیټ حالت کې ده.
د دغه ولایت اقلیم وچ دی، په ژمي کې پکې واوره اوري او په اوړي کې هم گرم موسمي بادونه لري. بادغیس د خپل غرنیز جوړښت له امله په ځانگړي ډول په سوېل-لوېدیځو او سوېل- ختیځو برخو کې ډېرې ښایسته طبیعي منظرې لري، چې یوه ښه نمونه یې د سبزک بند دی او دغه ځای د ارچې د ونو په منځ کې پټ او د اوبو ډېرې چینې لري.
دغه راز د بادغیس ولایت بله طبیعي منظره د جوند په دره کې ډېرې ځایونه ولاړې اوبه دي، چې د «پوده» اوبو په نوم هم شهرت لري. د مرغاب سیند هم چې د هېواد له ډکو بهېدونکو سیندونو څخه دی، د دغه ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې تېرېږي.
د زرمست بند هم د تبعي منظرو یوه بله نمونه ده، چې ډېره په زړه پورې هوا لري، خو له دې ټولو ښایسته منظرو سره سره بیا هم افغان ولسمشرانو او واکمنانو دغه ولایت ته کومه ځانگړې پاملرنه نه ده کړې.
د بادغیس پسرلی ښایسته او افسانوي ښکلاگانې لري، د غرونو شنې لمنې د لاله په ژېړو او بنفشو رنگونو داسې ښکلې شوې وي لکه ناوې، چې د خپل معشوق په انتظار کې د هغه د راتلو په تمه مسکا او خنداگانې کوي. دغه ولایت د مرکز په گډون اته اداري واحدونه لري: قلعه نو (مرکز)، اب کمري، جوند، غورماچ، مقر، قادس او مرغاب.
د دغه ولایت اقتصاد پر زراعتي محصولاتو ولاړ دی. کرنه یې ډېره برخه للمینه بڼه لري او له مډرنو او تخنیکي توکو ډېره کمه گټه پورته کوي. کرنیز حاصلات یې: غنم، جوار، نخود، زیره (زړکی)، کونځلې، هندوانې، خټکي او نور دي. بادغیس له لرغونو زمانو راهیسې تر اوسه د خراسان د گودام او د افغانستان د لوېدیځې حوزې په نوم شهرت لري.
د دې سیمې د خلکو دویم کسب مالداري او د قره قل پسونو ساتل دي، له یاد ولایته هر کال پسونه، د قره قل پوستکي، وړۍ، کُرک او کورت د هېواد نورو ولایتونو او له هېواده بهر صادرېږي.
د بادغیس د زیار ایستونکو خلکو یو بل کسب د غالیو اوبدل دي، چې ډېری وخت په کورونو کې د ښځو له خوا اوبدل کېږي.
د بادغیس غالۍ په هېواد او بهر کې ځانگړی نوم لري، چې په ۵۰ لمریز کلونو کې دغو غالیو د امریکا د فلادیلفیا ښار او د توکیو په نړیوالو نندارتونونو کې لومړی مقام گټلی و. د دغه ولایت د غالیو اوبدلو موسسې «د بادغیس غالۍ اوبدلو شرکت» په نوم تر ۱۳۷۱ لمریز کلونو پورې چې دفتر یې په کابل ښار کې و، شتون درلود، خو د مجاهدینو تر منځ په خونړیو کورنیو جگړو کې یې د نورو اقتصادي بنسټونو په څېر خپل دفتر له پولې هاخوا ولېږداوه، چې اوسمهال هم د سمرقند په ښار کې په همدغه نوم شته.
پسته د دغه ولایت له مهمو محصولاتو گڼل کېږي، چې هر کال ترې خلک او دولت میلیاردونه افغانۍ گټه تر لاسه کوي. د بادغیس د پستو ځنگلونه د هېواد په کچه تر ټولو لوی ځنگلونه دي، چې شاوخوا ۹۵ زره هکتاره ځمکه یې نیولې ده او دولت هم دغه باارزښته وچې مېوې ته ډېره کمه پاملرنه کړې ده. ځکه د دغه ولایت ډېری بې وزله خلک د ژمي لپاره لرگي له دغو ځنگلونو څخه تر لاسه کوي او دغه راز دولت د دغو ونو د ډېرېدو لپاره هم کوم پروگرام نه لري.
د قلعه نو ښار په څو سوه متري کې د هوايي ډگر سوېل خوا ته په مخکینیو کلونو کې د غره د راښویېدو له امله د بامیانو د طاقونو په بڼه څو طاقونه جوړ شوي دي او که د همدغه غره په لمنه کې د ختیځ او لوېدیځ لوري ته کاوش تر سره شي، نو ډېرې لاسته راوړنې به ولري او دغه امکان هم لري، چې دغه طاقونه ښایي له اسلامه مخکې دورو پورې اړوند وي.
د قلعه نو ښار لوېدیځ لور ته په ۷۰ کیلومترۍ کې د کلا نریمان په نوم یو مشهور حصار پروت دی، چې ډېر حیرانوونکې او لرغونې ودانۍ لري. غبار، ((افغانستان د تاریخ په اوږدو کې)) په خپل کتاب کې دې کلا ته د کالیون کلا نوم ورکړی دی. یوهبله مشهوره کلا چې د کالیون (نریمان) د خور په نوم هم مشهوره ده، د قادس ولسوالۍ په اړوند سیمو کې جوړه شوې، چې په ورته بڼه یې د مغولیانو پر وړاندې خپل مقاومت وښود چې له همدې امله د پیوار کلا په نوم هم یادېږي.
د سیمې خلکو له یادو دواړو ځایونو په تېرو کلونو کې لرغوني اثار را ایستي دي، چې بیا د سیمه ییزو قاچاق وړونکو له خوا پاکستان ته قاچاق او له هغه وروسته خرڅ شوي دي.
حنظله بادغیسي، فضل‌احمد پیمان، سمنبو بادغیسي، معلم نیک محمد خان، احمد بن عبدالله خجستاني، ابوبکر، وسیمه، بسم الله بسمل، عرفاق، سمنگو بادغیسي او نقیب الله اروین د دغه ولایت وتلې څېرې دي. د دغه ولایت اقتصاد پر زراعتي محصولاتو ولاړ دی، کرنه یې د للمي بڼه لري او له مډرنو او تخنیکي توکو ډېره کمه گټه پورته کوي. کرنیز حاصلات یې غنم، جوار، نخود، زیره (زړکی)، کونځلې، هندوانې، خټکي او نور دي. بادغیس له لرغونو زمانو راهیسې تر اوسه د خراسان د گودام او د افغانستان د لوېدیځې حوزې په نوم مشهور و.
د دې سیمې د خلکو دویم کسب مالداري او د قره قل ډوله پسونو ساتل دي، له دغه ولایته هر کال پسونه، د قره قل پوستکي، وړۍ، کُرک او کورت د هېواد نورو ولایتونو او له هېواده بهر صادرېږي. د دغه ولایت کرنې ته ملخان او کپشک ډېر زیان رسوي.
په بادغیس کې له دولتي ټلوېزیون پرته چې ملي او سیمه ییز پروگرامونه خپروي، نور نشرات نه کوي او دغه راز د حنظله په نوم یوه راډیو هم ځینې خپرونې لري. د «بادغیس اینې» په نوم یوې میاشتنۍ چاپي رسنۍ هم په دې وروستیو کې خپل فعالیت پیل کړی دی. د مشعل هدایت میاشتنۍ، د بادغیس ولایت د علماوو شورا نشریه ده، چې هره میاشت له چاپه راوځي. د صدای بادغیس میاشتنۍ او د ښځو د خورشید مجله خپل فعالیت جاري ساتلی دی. بادغیس ویب سایټ هم لري، چې د دغه ولایت د ډېرو فرهنگیانو له لوري جوړ شوی دی.
د دغه ولایت د پوهنې ریاست د چارواکو د معلوماتو له مخې، په بادغیس کې ۴۶۰ ښوونځي فعال دي، چې ۸۰ یې لېسې او پاتې ټول یې ابتدایه او منځې ښوونځي دي. په دغه ولایت کې ۱۲۰ زره زده کوونکي پر زده کړو بوخت دي، چې ۳۵ سلنه یې نجونې دي.
په یاد ولایت کې د کرنې یوه مسلکي لېسه او د قابلگۍ یو انسټېټیوټ هم فعالیت لري. بادغیس ولایت د تاریخ له نظره ډېر لرغونی فرهنگ لري او حنظله بادغیسي په افغانستان کې د دری ژبې لومړنی شاعر پاتې شوی دی.
لکه څرنگه چې بادغیس له شاته پاتې او دریمه درجه ولایتونو له ډلې څخه دی، نو دې ته په کتو په دغه ولایت کې فرهنگي فعالیتونه هم کمرنگه دي. په بادغیس کې له دولتي ټلوېزیون پرته چې ملي او سیمه ییز پروگرامونه خپروي او دغه راز د حنظله په نوم یوه راډیو هم خپلې خپرونې کوي، نورې رسنۍ فعالیت نه لري. په دغه ولایت کې فرهنگي او ټولنیز بنسټونه ډېر مروج نه دي.
د دغه ولایت د المپیک امریت د معلوماتو له مخې، د یاد ولایت په بېلابېلو ټیمونو کې شاوخوا ۳ زره ورزش کاران غړیتوب لري او رسمي سیالۍ کوي.
دغه راز په بادغیس کې فوټبال، والیبال، دوش او باسکټبال لوبې ډېر مینه وال لري او همدارنگه رزمي لوبې لکه تکواندو، جودو، کاراته، پهلواني او ډېرې نورې هغه یې مروجې دي او دغه راز په دې وروستیو کې د کرکټ لوبې هم ځینې مینه وال پیدا کړي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ٤٦٣ |
| ₹ | ۱۰۲۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹٤,۲۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د بریالي ژوند راز

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د ټولو انسانانو یوه غوښتنه د بریالي او ښه ژوند تجربه کول او ورته رسېدل دي، خو دا هر څه خپلې کړنلارې لري چې باید عملي یې کړئ، څو موخې ته ورسېږی. له ځان سره فکر وکړئ چې د کوم کار کول مو په ژوند کې بنیادي بدلون را ولي، هر یو یې چې په نظر مهم درغلو، لومړی یې تر سره کړئ.

له دې کاره وروسته درته یوه د یاداښت کتابچه جوړه کړئ او د هغو کارونو لپاره مهالوېش جوړ کړئ، چې باید تر سره یې کړی. د درېو میاشتو کارونه مو داسې تنظیم کړئ چې د اړینوالي له مخې یې په کټه‌ګوریو ووېشئ.

د بېلګې په توګه، لومړی ټوله میاشت په پام کې ونیسئ، له هغې وروسته اونۍ او هغه کارونه چې ډېر اړین دي، همدا نن ورځ یې تر سره کړئ. هره شپه باید د سبا لپاره ورځنۍ مهالوېش ولری.

هره شپه باید له خپل ځان سره قول او وعده وکړئ، چې سهار له خوبه پورته شوې له اوداسه او لمانځه وروسته لومړی باید مهم او اړین کارونه تر سره کړی. له ځانه مو دغه عادتونه لرې کړئ چې سهار له خوبه پورته شی او له ځان سره ووایی: «نن ولا چندان جوړ نه یم، دا کارونه به سبا ته پرېږدم.» یا دا چې لومړی باید مسیجونه او ایمیلونه چک کړم او بیا د مهالوېش له مخې په هغو کارونو پسې ورسېږم چې ډېر درته مهم دي. ځان ته ووایئ: «یو قانون شته، هغه هم دا چې هره ورځ بې له کومې استثنا څخه لومړی باید مهم کارونه تر سره کړم.»



د بېلګې په توګه، سبا له یوه مهم کس سره د لیدلو وعده لری. په ذهن کې مو داسې تصویر جوړ کړئ چې سبا به له خیره هر څه سم روان وي او ټول کارونه به مو ډېر ښه پر مخ ځي او له خپلو ټولو کړنو به ډېر راضي یاستی. یا دا چې سبا غواړی څو مختلفو ځایونو ته لاړ شی، ځان مو داسې عیار کړئ چې هر یوه ته په خپل وخت رسیدګۍ وکړای شی او د دې کارونو د تر سره کولو لپاره مو ځان تر خپله وسه تشویق کړئ. په دې سره به مو خپل لا شعور ته هر څه په ګوته کړي وي او د خوب پر مهال به هم د سبا لپاره د دې ټولو کارونو تر سره کولو ته تیاری ولری. داسې چې ان د خوب پر وخت به مو هم خپل لومړني کارونه تر سره کړي وي او داسې به ښکاری چې په خوب کې به هم فعالیت کوی.

فکر او پروګرام جوړول د هر کار لومړی ګام دی؛ خو که د هر کار د کولو لپاره ډېر وخت په نظر کې ونیسی او یا یې په اړه ډېر فکر وکړی، دا کړنه به دې د دې لامل شي، چې ورو ورو د خپلو موخو له تعقیب پاتې شی. د یوه کار په اړه ډېر فکر کول او په کار کې ځنډ کول د دې لامل ګرځي، چې ډول ډول بهانې جوړې کړی او د دې کار د کولو لپاره خپل وخت ضایع کړی او بالاخره خپله یې د نه کولو یو دلیل جوړ کړی او له کار کولو پاتې شی.

که غواړی چې یو نوی کار تر سره کړی، خو په دې برخه کې کافي تجربه نه لری، که هر څومره هڅه هم وکړی بیا به هم له دې کار د پام وړ لاسته راوړنه ونه لری. د اندېښنې وړ خبره نه ده، ځکه هېڅوک هم په لومړي سر کې مسلکي عمل نه شي کولای. له «هېڅ» نه لږ ګټه هم ښه ده. په راتلونکې کې باید له دې څخه زیاته تمه ولری. داسې فکر وکړئ چې د ډېرو لویو کارونو لپاره مو مهالوېش او پروګرام جوړ کړی، خو تر اوسه لاس پکار شوی نه یاستی.

زیاتره کسان مخکې له دې چې کوم کار پیل کړي، په اړه یې زیاته اندېښنه کوي، دوی داسې فکر کوي چې پر وړاندې یې د ستونزو یو دیوال پروت دی، خو که په دې بریالي شول چې کار یې پیل کړ او له نیمایي ور تېر شول، نو پاتې کار به یې ډېر په لېوالتیا سره تر سره کړي، نو تاسې هم بې له کوم ځنډ څخه حاضر شئ او کار پیل کړئ، څو نیمایي ته ورسېږی او د پاتې کار لپاره په خپل ذهن کې شور او شوق پیدا کړئ.

د هر کار له تر سره کولو وروسته، خپل ځان نور هم تشویق کړئ او کوم کار مو چې تر سره کړی، پر ځان وویاړئ. حتی کله کله د ځان لپاره ډالۍ واخلئ او له ځانه مننه وکړئ. هر مقطعي کار چې تر سره کوی، داسې فکر وکړئ چې دې ته ورته نور مقطعي کارونه او ان تر دې هم لوی په مخ کې لری. دغه د ځان تشویقول او هڅول په تاسو کې داخلي انرژي نوره هم پیاوړې کوي او د نورو کارونو لپاره درته موقع برابروي.

## ولسي جرګه: کرونا د کابینې په مسئله ځنډ نه جوړوي، حکومت دې ژر خپله کابینه رامعرفي کړي

ولسي جرګه وایي چې پر کرونا ویروس د یو شمېر وکیلانو د اخته کېدو ستونزه به نوماند وزیرانو ته د باور رایې د ورکولو بهیر له ځنډ سره مخ نه‌کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې ولسي جرګه به د دوبي له رخصتیو وروسته نوې کابینې ته رایې ورکړي. د دې جرګې لومړي مرستیال له ازادي راډیو سره په خبرو کې هغه اوازې هم رد کړې چې ګنې د جرګې ٦۰ تر ۷۰ سلنه غړي پر کرونا ویروس اخته شوي دي.

د ولسي جرګې لومړی مرستیال محمد مېرزا کټوازي ویلي چې ولسي جرګه به په هغه صورت کې چې نوماند وزیران غوره شوي وي، د دوبي له رخصتیو تر رارستنېدو وروسته هغوی ته د اعتماد رایې ورکړي.



هغه زیاته کړې: «د کرونا مسئله بالکل د کابینې په مسئله ځنډ نه جوړوي. زموږ غږ پر حکومت دا دی چې ژر تر ژره خپله کابینه معرفي کړي، څو د سرپرستۍ حالت ختم شي، خو د ولسي جرګې ټولې ۱۰ ورځې رخصتیو ته پاتې دي او ماته ښکاري چې کابینه به د جرګې له رخصتۍ وروسته معرفي شي.»

دا څرګندونې داسې مهال کېږي چې افغان حکومت تېره اونۍ وویل چې نوې نوماند وزیران به ډېر ژر ولسي جرګې ته د باور رایې د اخیستو لپاره معرفي کړي. تېره اونۍ د ځینو وکیلانو له قوله داسې راپورونه هم خپاره شول چې ګنې د جرګې له ٦۰ تر ۷۰ سلنه غړي پر کرونا وبا اخته شوي دي.

د افغانستان د اساسي قانون له مخې، د ولسي جرګې د دوبي رخصتۍ د زمري په لومړۍ نېټه پیلېږي او ۴۵ ورځې دوام کوي او تمه ده چې نوې کابینې ته د باور رایې ورکول به‌یې په لومړیتوب کې وي.

په ورته وخت کې د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله ته نږدې سرچینو ویلي چې یاد ټیم د خپلې نیمایي برخې د نوماندانو لېست ارګ ته سپارلی دی. دې سرچینې د نوم نه‌ښودلو په شرط ازادي راډیو ته ویلي چې په دې لېست کې د یوې مېرمنې په ګډون ۱۳ نوماند وزیران او د اداري اصلاحاتو ریاست ته نوماند شامل دي.

## د بشري حقونو کمېسیون: د ملکیانو د مرګ ژوبلې ډېروالی د جدي اندېښنې وړ دی

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په هېواد کې د ملکیانو د مرګ ژوبلې له زیاتوالي اندېښنه څرګندوي او وایي چې یوازې په تېرو څلورو ورځو کې ۲۸ ولسي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. له دې ډلې یوازې ورمه ورځ په درې جلا پېښو کې په غزني، فاریاب او وردګو ولایتونو کې ۱۳ ولسي وګړي ووژل شول او اته تنه نور ټپیان شول.

په غزني ولایت کې پېښه پر یوه فلانکوچ ډوله موټر د سړک غاړې ماین چاودنه وه، کله چې دا موټر د دغه ولایت له رشیدانو ولسوالۍ نه د جغتو مرکز ته روان و، په لعلي سیمه کې پر ماین برابر شو. په دې پېښه کې شپږ ولسي وګړي چې ټول په همدغه موټر کې سپاره وو، ووژل شول او اته تنه نور ټپیان شول.



د ورمې ورځې بله پېښه د میدان وردګو ولایت د سید آباد ولسوالۍ په سلطانخېلو کلي کې پر یوه کور د هاوان لګېدل وو چې په دې پېښه کې د یوې کورنۍ درې غړي وژل شوي دي.

د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د نشراتو رییس ذبیح الله فرهنګ په دې اړه ویلي: «د ولسي وګړو بشري حق ته درناوی نه کوي. دا د دې لامل کېږي چې موږ په ځلونو د افغانستان د وګړو د انساني او بشري حقونو د نقض شاهد واوسو.»

د غزني ولایت چارواکو او سیمه ییزو کسانو ویلي چې ماین د طالبانو له خوا ایښودل شوی و او د ملکیانو موټر پرې ور برابر شو چې یاده مرګ پکې واوښتله.

په ورته مهال د میدان وردګو ولایت د سیداباد ولسوالۍ اوسېدونکي د هاوان د لګېدو په اعتراض کې د دولتي ځواکونو د پوستې مخې ته راغونډ شوي وو او دغه ډول بریدونو د درېدو غوښتنه یې کوله.

د میدان وردګو د ولایتي شورا غړي شریف الله هوتک ویلي: «یو سړی له خپلو دوه ماشومانو سره چې ولسي وګړي وو په شهادت ورسېد او دا ډول جګړې تل له ولسي وګړو قرباني اخلي.»

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون له ښکېلو لوریو غوښتي چې د افغانانو تر منځ د خبرو له پیلېدو مخکې په هېواد کې د تاوتریخوالي کچه راکمه کړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ !
STAY HOME
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۱۳مه | ۵٦٦مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۸ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۰ | لمر ختل ۰٤:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۰

## نړۍ




## ایران: د ناسم پوهاوي او تېروتنې له کبله مو د اوکراین الوتکه را نسکوره کړه

ایراني چارواکو یوځل بیا منلې چې د اوکراین مسافر وړونکې الوتکه د انساني تېروتنې له کبله وېشتل شوې او غورځول شوې ده. دا په داسې حال کې ده چې ایران په لومړي سر کې نه منله چې ګنې پوځ یې دغه الوتکه ویشتلې او غورځولې ده.

په همدې تړاو په تازه راپور کې راغلي چې د عسکرو او قوماندانو تر منځ د ناسم تفاهم، د اجازې پرته د توغندیو وارول او د توغندیو په سیستم کې د بېرې په ناسمه توګه اېښودل د دې سبب شول چې د ایران د انقلاب ساتونکو ځواکونو د یوکراین مسافر وړونکې الوتکه وولي. د راپورونو له مخې، په دې الوتکه کې ۱۷٦ کسان سپاره وو او ټول ووژل شول.

د یادونې ده چې د الوتکې د لوېدو په هکله دغه تازه راپور د ایران د هوایي چلند سازمان خپور کړی دی. کاناډا او یو شمېر نورو هېوادونو له ایرانه څو ځله غوښتي چې د الوتکې د معلوماتو د ثبت ماشین (تور بکس) دې ور وسپاري چې معلومه کړي الوتکه چا او څنګه ویشتلې، خو ایران دا غوښتنه نه منله. ایران اوس ویلي چې د الوتکې تور بکس به پاریس ته ولېږي او نړیوال تحقیق کوونکي به یې بالاخره وګوري. د لوېدیځو هېوادونو د استخباراتي ادارو د معلوماتو له مخې، ایران د اوکراین دا مسافر وړونکې الوتکه د (SA-۱۵) د توغندیو د دفاع په سیستم ویشتلې چې په روسیه کې جوړ شوی دی. دا سیستم رادار لري، د موټر د پاسه اېښودل کېږي او اته توغندي پکې ځای پر ځای کېږي.

## د کرونا چټکه پراختیا؛
## په نړۍ کې د دې وبا د مثبتو پېښو شمېر نږدې ۱۳ میلیونو ته رسېدلی دی



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې ۱۳ میلیونو ته لوړې شوې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۵٦۹ زره او ۵٦۰ کسان مړه شوي او له اووه نیمو میلیونو زیات بېرته رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس امریکا د کووېډ-۱۹ ویروس د زیاتو قربانیانو او مثبتو پېښو له کبله د نړۍ مخکښ هېواد دی.
په دغه هېواد کې د کرونا ټولې مثبتې پېښې درې میلیونه او ۳۹۰ زره او ۳۷۴ ته رسېدلي او ۱۳۷ زره او ٦۵۱ نور امریکایان یې مړه کړي دي. په دغه هېواد کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کووېډ -۱۹ ویروس ۳۴ زره او ۷۲۸ مثبتې پېښې ثبت شوي او له ۲۵۰ ډېر کسان مړه شوي دي.
د امریکا په یو شمېر ایالتونو کې د کاروبارونو له بیا پرانیستل کېدو وروسته په دغه هېواد کې د کروناویروس پېښې هم زیاتې شوې دي.
دغه راز د کروناویروس له نویو پېښو سره هممهاله ولسمشر ټرمپ په لومړي ځل ولیدل شو چې ماسک یې تړلی دی.
ټرمپ ورمه ورځ د «والټر رید ملي نظامي» روغتیایي مرکز ته تللی و چې په جګړه کې ټپي شوي امریکایي سرتېري وګوري. هغه ماسک تړلی و او بیا یې وویل چې د ناروغانو د لیدو په وخت کې د ماسک تړل ښه وي.
په همدې حال کې د امریکا ځینو ایالتونو سمندرغاړې او شراب خانې بیا تړلې دي او یو لړ نوي محدودیتونه یې هم لګولي چې د کروناویروس د خپرېدو مخه ونیول شي.


## معترضین: وزیرصحت یا استعفی دهد و هم یا معذرت بخواهد



صدها تن از شهروندان و حامیان رضاکاران صحی در هرات، دیروز در مقابل ساختمان مقام ولایت هرات دست به تظاهرات زدند. این شمار از شهروندان و حامیان رضاکاران وزارت صحت عامه بخاطر اقدام چند روز قبل سرپرست وزارت صحت عامه مبنی بر توهین و اخراج رضاکاران شفاخانهٔ افغان-جاپان در کابل، در مقابل ساختمان مقام ولایت هرات دست به تظاهرات گسترده زدند. آنان با شعارهای»یا معذرت یا استعفی، وزیر بی کفایت« مدعی شدند که اخیراً وزارت صحت عامه بخاطر بسترسازی فساد، شب هنگام وارد شفاخانهٔ افغان-جاپان شده و به گونهٔ توهین آمیز، تیم رضاکار انجمن طبی اسلامی افغانستان را از شفاخانه بیرون کرده اند. این معترضان مدعی اند این اقدام خلاف امضای تفاهم نامه میان وزارت صحت و انجمن طبی اسلامی افغانستان است و می تواند روحیهٔ رضاکاران را آسیب برساند. به گفتهٔ معترضان، بر اساس تفاهم نامه، تیم رضاکار انجمن طبی اسلامی افغانستان تا سه ماه قرارداد داشته اند، اما سرپرست وزارت با زور اسلحه و توهین آنان را اخراج کرده است. بصیر احمد دانشیار یکی از برگزار کنندگان این تظاهرات گفت که با این اقدام سرپرست وزارت صحت عامه، روحیه کاری رضاکاران به شدت آسیب می بینند. وی افزود، پس از گماشتن احمد جواد عثمانی به عنوان نامزد وزیر صحت عامه، اتهامات زیادی مبنی بر فساد و انتقال وقاچاق ونتیلاتور به پاکستان وارد شده است و با اخراج تیم رضاکاران از شفاخانه افغان - جاپان، بستر فساد نیز بیشتر می گردد. در همین حال معصومه جعفری معاون سخنگوی وزارت صحت عامه، اخراج رضاکاران را رد می کند وبه پژواک گفته است که سرپرست وزارت صحت عامه در نشستی با رضاکاران از آنان خواسته است که آنان نیز میتوانند در کنار تیم جدید ایفای وظیفه کنند.


## ژوند

## ځان مو په خپله وهڅوئ!



په لومړي سر کې مسلکي عمل نه شي کولای. له «هېڅ» نه لږ ګټه هم ښه ده. په راتلونکې کې باید له دې څخه زیاته تمه ولرئ. داسې فکر وکړئ چې د ډېرو لویو کارونو لپاره مو مهالوېش او پروګرام جوړ کړی، خو تر اوسه لاس پکار شوي نه یاست. ډېرې مخکې له دې چې کوم کار پیل کړئ، په اړه یې زیاته اندېښنه کوئ، دوی داسې فکر کوي چې پر وړاندې یې د ستونزو یو دیوال پروت دی، خو که په دې بریالی شو چې کار یې پیل کړ او لاره یې پکې وموندله، نو پاتې کار به په ډېره لېوالتیا سره تر سره کړي. که غواړئ چې یو نوی کار تر سره کړئ، خو په دې برخه کې کافي تجربه نه لرئ، که هر څومره هڅه هم وکړئ بیا به هم له دې کاره د پام وړ لاسته راوړنه ونه لرئ. دا د اندېښنې وړ خبره نه ده، ځکه هېڅوک هم

## نعنا د هاضمې سیستم لپاره ګټور دی



د تغذیې برخې مشهور متخصص پیام فرح وایي، نعنا انسان ته د خوښۍ احساس ورکوي او ستړیا یې له منځه وړي، نعنا د هاضمې سیستم لپاره ګټور دی، هغو کسانو ته یې هم د خوړو سپارښتنه کېږي چې د ستړیا د له منځه وړو او انرژۍ اخیستو لپاره شیریني خوري. کولی شی له شنې او تازه نعنا څخه د ډوډۍ خوړلو پر وخت او یا هم په ورځني ډول د چای پر ځای د نعنا ځانګړی چای وڅښی. د نعنا خوړل له بدن څخه زهري مواد باسي، د سر درد له منځه وړي، د خولې بد بوی ورکوي، سرطان کابو کوي، وینه پاکوي او د ساېندۍ لپاره تر ټولو ښه نسخه ده. نعنا په خپل ترکیب کې په زیاته کچه ویټامین بي ۳ او فاسفورس لري او د پوستکي له سلامتیا سره مرسته کوي. که څه هم چې نعنا د معدې لپاره ګټور دی، خو روغتیاپالان وایي، هغه کسان چې د معدې زخم لري، د نعنا تر خوړلو مخکې باید له ډاکټر سره مشوره وکړي.

ماستر ډبټ کارت
د عزیزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank

